د افغـــانستان اســـلامي امـــارت
د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو
ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

۱۹/ رجب المرجب/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۲۱/ دلو/۱۴۰۱هـ، ش

# د نامَحرمو ښځو او سړیو ترمنځ د اختلاط حُرمت او بدې پایلې

إن الحمد لله تعالى نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله تعالى من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا من يهد الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له واشهد أن لا اله إلا الله وحده لا شريك له واشهد أن محمداً عبده ورسوله، أما بعد:
قال الله سبحانه وتعالى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَن يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ وَلَوْلا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىَ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَداً وَلَكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ } .النور:(۲۱)

## اختلاط د غربیانو او بې دینه خلکو فرهنګ دی:

الله جل جلاله د خلکو داصلاح لپاره داسې حکمونه رالیږلي دي چې ټولنه د شرونو او ګناهونو څخه پاکوي او پیغمبرعلیه السلام  قولا او عملا د الله تعالی د حکمونو تشریح او توضیح کړې ده او خلکو ته یې د فتنې او د فتنو اسباب په واضحه توګه بیان کړي دي.

زنا ډیره ناکاره جرم دی او د فتنو سرچینه ده او شیطان هڅه کوي ترڅو مسلمان د سمې لارې څخه واړوي او په تدریج سره یې په دې ناکاره ګناه باندې اخته کړي، زنا رب العالمین ددې لپاره حرامه کړې ده ترڅو دخلکو ابرو او عزت مصئون وي، نسل او نسب یې پاک وي او اجتماع د هر ډول بدو اخلاقو څخه پاکه وي.

هرکله چې الله تعالی زنا حرامه کړې ده، زنا ته د ورتلو لارې او اسباب یې هم حرامې کړي دي؛ ترڅو انسان په زنا کې اخته نشي چې دهغې له جملې څخه د نامَحرمو ښځو او سړیو ترمنځ اختلاط دی.
الله جل جلاله دهغه فطرت یادونه کړې ده چې دانسان نر او ښځې په خټه کې پروت دی. الله تعالی فرمایلي دي:(زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ).آل عمران: (۱۴)
ترجمه:- ښایسته کړې شوی ده خلکو ته مینه د مرغوبو خوندورو شیانو چې ښځې دي او زامن دي.
اسلامي شریعت ټول هغه اسباب او وسائل حرام کړي دي چې انسان په فتنو کې اچوي چې هغه د شهوتونو تابع کیدل دي؛ ترڅو مسلمانان ددغو مواردو څخه ځان وساتي.

د زنا څخه د لرى والي په هدف د وقايې په ډول اسلامي شريعت د ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط او خلوت حرام ګرځولی دی. د نامحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط ددې لپاره حرام شوی دی ترڅو مسلمان په فتنه کې ونه لويږي؛ ځکه اختلاط د شيطان رسۍ او د زنا سبب دی.

د اسلامي ټولنې د بربادۍ لپاره غرب تل د مختلط چاپيريال جوړولو لپاره تبليغات کړی دي، تل يې د اختلاط لپاره زمينه سازي کړې ده او غرب تل کوښښ کړی دی چې ښځه په څه بهانه له کوره راوباسي ترڅو ښځه د نامَحرمو سړيو سره په مختلط ژوند کې ملګري کړي، په مکتب کې بايد مختلط نظام وي، په دفتر کې بايد مختلط نظام وي، په پوهنتون کې بايد مختلط نظام وي، په روغتون او شفاخانو کې بايد مختلط نظام وي ، په ودونو او د خوښيو په مجلسونو کې بايد مختلط نظام وي؛ خلاصه دا چې کفر غواړي چې د ژوند په هره برخه کې د ښځو او سړيو اختلاط وي او دښځو موضوع د غرب لپاره مهمه ده ځکه غرب خپل هر مقصد او فتنه د ښځو تر سيوري لاندې ترلاسه کوي .

د کومې ورځې نه چې غربي نړۍ د خپلو شومو اهدافو لپاره ښځه صحنې ته راويستلې ده د هماغه ورځې څخه اسلامي علماوو او پوهانو دهغو ددې فتنې د خاموشه کولو لپاره خپل آواز په هرځای کې او په هر وخت کې پورته کړی دی؛ چې د نن ورځ بيان او تقرير هم ددغه بهير لړۍ ده.

## د نامَحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط په شريعت کې مردود دی:

علماؤ چې د اختلاط زيات تعريفونه کړي دي د هغې ټولو نه دا معلوميږي چې چيرته هم پردي سړي او پردۍ ښځې په داسې طريقې سره را جمع شي چې په يو بل يې نظر لږي ، يو بل سره لاسونه ورکوي ، يو بل ته خاندي ، يو بل سره ګپ شپ لږوي ، يو بل سره يې بدنونه لګيږي نو داسې اختلاط حرام دی ، ددې په حرمت کې هيڅ شک نشته . که دا را جمع کيدل په تعليمي ادارو کې وي ، يا دفترونو کې وي ، يا جلسو کې وي ، يا په هوټلو کې وي او يا په نورو ځايونو کې وي ، دا ټول صورتونه حرام دي .

د نامَحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط په کتاب الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو کې مردود عمل دی.

اسلامي شريعت څوارلس سوه کاله مخکې ويلي دي چې - فقد أخرج البخاري ومسلم من حديث أسامة بن زيد عن النبي - صلى الله عليه وسلم - :(ما تركت بعدى فتنة هي أضر على الرجال من النساء). متفق عليه

ترجمه:- نه ده پريښې ما له خپل ځان څخه وروسته داسې فتنه چې هغه دی زياته ضرري وي سړو ته له ښځو څخه.

په بل حديث کې راځي:( فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ ؛ فإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِي إِسرائيلَ كَانَتْ في النِّسَاءِ) رواه مسلم.

ترجمه:- پس ځان وساتئ له دنيا څخه او ځان وساتئ له ښځو څخه؛ بيشکه لومړنۍ فتنه په بني اسرائيلو کې د ښځو په وجه وه.

په بني اسرائيلو باندې د طاعون عذاب د ښځو دفتنې او زنا له امله را نازل شوی ؤ.

دبني اسرآئيلو ديو عالم او پيشوا بلعم بن باعوراء عبرتناکه واقعه:

په دې اړه زيات مشهور او دجمهورو په نزد داعتماد قابل روايت هغه دی کوم چې ابن مردويه دحضرت عبدالله بن عباس ، څخه نقل کړي دی چی ددی سړي نوم بلعم بن باعوراء دی ، دی دشام د ملك بيت المقدس ته نژدی دکنعان اوسيدونکی وو اوپه يوروايت کې راځي چې دی دبني اسرائيلو څخه وو ، دالله جل جلاله دځينو کتابونو علم ده ته حاصل وو . دفرعون دغرقيدو اومصر فتح کيدو څخه وروسته حضرت موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته دجبارينو سره دجهاد کولو حکم وکړ او جبارينو وليدل چې حضرت موسی عليه السلام د بني اسرائيلو دلښکر سره را ورسيدی او ددوی دمقابل فرعون او دده دقوم غرقيدل دوی ته دمخکی څخه معلوم ؤ ، نو د دوی سره فکر شو او ټول را جمع شول او بلعم بن باعوراء ته راغلل او ورته يې وويل چې حضرت موسی عليه السلام سخت سړی دی او دده سره ډير لښکر دی او هغه ددی دپاره راغلی دی چی مونږ دخپل ملك څخه وباسي ته الله تعالی ته داسې سوال و کړه چې موسی عليه السلام او دده قوم زمونږ دمقابلې څخه واپس کړي ، وجه داوه چې بلعم بن باعوراء ته اسم اعظم معلوم وو او ددې امله دده هره دعاء قبليده. وويل افسوس دی چې تاسې دا خبره کوی ، هغه دالله تعالی نبي دی او دهغه سره دالله تعالی ملائکې دي، زه د هغه خلاف څنګه کولی شم حال دادی د هغه چې دالله تعالی سره کوم مقام دی دهغې نه خبر يم. که زه داسې دعا وکړم نو زما دين او دنيا به دواړه تباه شي، خلکو ورته ډير منت او زاری وکړه ، نو بلعم وويل چې ښه ده ، زه به دخپل رب څخه په دی معامله کې معلومه کړم چې دداسی دعا کولو اجازت شته اوکه نه ؟ ده دخپل معمول مطابق ددې کار د معلومولو دپاره استخاره يا بل عمل وکړ ، په خوب کې ده ته ور وښوول شو چې هيڅکله داسې ونه کړئ، ده قوم ته وويل چې زه دښيرا کولو څخه منعه شوم ، دغه وخت دجبارينو قوم بلعم ته يو لويه ډالۍ وړاندی کړه چې په حقيقت کې دا رشوت وو ، ده ډالۍ قبوله کړه نو بيا دقوم خلک په ده پسې شول چې ته خامخا دا کار وکړه اوبې حده زاري اومنت يې وکړ او په يو روايت کې راځي چې ده ته خپلې ښځې مشوره ورکړه چې دارشوت قبول کړه او ددوی داکار وکړه ، ده دحضرت موسی عليه السلام او دبني اسرائيلو خلاف ښيرا شروع کړه دغه وخت دالله تعالی په قدرت سره ده به چې کومه بده ښيرا حضرت موسی عليه السلام په حق کوله هغه سزا به د بلعم بن باعوراء قوم ته رسيدله، دده قوم راټول شول او ده ته يې شکايت وکړ چې ته خو مونږ ته ښيرا کوي؟ بلعم بن باعوراء ورته وويل چې دا کار زما په توان کې نه دی او دا زما داختيار څخه بهر خبره ده زما ژبه د موسی عليه السلام پر خلاف نه چليږي. نتيجه دا شوه چی دده پرقوم باندی هم تباهی نازله شوه او بلعم ته دا سزا ورسيده چې ژبه يې راووتله او دده پرسينه وځړيده. ده خپل قوم ته وويل چې زما خو دنيا او آخرت دواړه تباه شول اوس زما دعا نه چليږي ، ليکن زه تاسې ته يو تدبير ښيم د کوم په ذريعه چې تاسو د موسی عليه السلام پر قوم باندې غلبه موندلی شي، هغه دادی چې تاسې ښائسته انجونې دبني اسرائيلو لښکرته ور وليږئ او دې ښځو ته داتاکيد وکړئ چې دبني اسرائيلو خلک ددوی سره څه چې کوي هغه دې وکړي، دوی دې نه منعه کوي ، داخلک مسافر دي او ډير وخت کيږي چې د خپلو کورونو څخه راوتلي دي او ښځو ته زياته اړتيا لري ، په دی تدبير سره ممکنه ده چې دغه خلک په زنا کې اخته شي او د الله تعالی په نزد زنا ډير مبغوض شی دی ، که چيرې په هغوی کې زناکاري وشي پر هغوی خامخا عذاب نازليږي او تاسوورباندې غالب کيږي ، دده قوم دبلعم په دې شيطاني چال عمل وکړ او د موسی عليه السلام لوی لوی کسان په زنا کې اخته شول ، دښځو د فتنې د وجی نه بني اسرائلو شکست وخوړلو او په دوی باندې طاعون مرض نازل شو چې په طاعون سره په يوه ورځ کې اويا زره ۷۰۰۰۰ اسرائيليان مړه شول .

نن صبا متأسفانه د پرمختګ ترنامه لاندې او د غرب څخه د روند تقلید په نتیجه کې په اسلامي ټولنو کې د لومړي ټولګي څخه واخله ترپوهنتون پورې د ښځو او سړيو ترمنځ مختلط نظام رائج دی چې د شريعت له نظره دا منفوره کړنه ده او د اسلامي شريعت مخالف کار دی.

په اسلامي شريعت کې د نامحرمو سړيو او نامحرمو ښځو ترمنځ اختلاط حرام ګرځول شوی دی؛ ځکه چې (الوسائل لها حکم المقاصد) هرکله چې زنا حرامه ده؛ نو هرهغه کړنه چې زنا ته لاره همواروي هغه هم حرامه ده.

د نامَحرمو ښځو او سړيو ترمنځ د اختلاط په حرمت باندې لاندې نصوص دلالت کوي.

۱- الله جل جلاله ښځو ته په کورکې د پاتې کيدو امر کړی دی او فرمايلي يې دي:(وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الجَاهِلِيَّةِ الأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ البَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً).الأحزاب: (۳۳)

ترجمه:- او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونيسئ او تاسو دلومړني جاهليت د زينت څرګندونې په شان زينت مه څرګندوئ او تاسو لمونځ قائموئ او زکات ادا کوئ او دالله او دهغه د رسول اطاعت کوئ بيشکه همدا خبره ده چې الله غواړي له تاسونه ای اهل بيتو ګناه لرې کړي او تاسو پاک کړي په پاکول.

الله جل جلاله د رسول الله صلی الله عليه وسلم بی بيانو ته امر کړی دی چې په کور کې کيني اوپه کور کيناستل د اختلاط څخه مخنيوی دی. پرته له ضرورت څخه بايد ښځې له کوره ونه وزي.

که څه هم داآيت د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيبيانو په اړه دی؛ ولی د آيت حکم ټولو ښځو ته دی.

۲- په پرده کې او عدم اختلاط کې د زړونو پاکوالی دی؛ الله جل جلاله فرمايلي دي:( وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعاً فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ) الأحزاب:( ۵۳)

ترجمه:- او کله چې تاسو له دغو( پاکو بيبيانو) نه څه سامان غواړئ نو له دوی نه يې په داسې حال کې غواړئ چې تاسو له پردې نه دباندې يی دا( کار) ډير پاک ساتونکی دی ستاسو زړونو لره او دهغوی زړونو لره.

کله چې ښځه ددې نه منع شوی ده چې پرته له حجاب څخه د بيګانه سړي سره خبری ونه کړي او بايد دخبرو پروخت د عدم اختلاط لپاره مانع موجودوي چې دا کار د اختلاط لپاره فرصت له منځه وړي. ددې وجی نه مفسرين وايې چې حجاب بهترينه وسيله ده د خلکو د زړونو د پاکوالي لپاره.
۳- الله تعالی ښځو ته حکم کړی دی چې پښې دې په ځمکه نه وهي او فرمايې:(وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعاً أَيُّهَا المُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ).( النور: (۳۱)

ترجمه:- او دا (ښځې) دې خپلې پښې نه وهي ددې لپاره چې معلوم کړی شي هغه څه چې دوی يې له خپل زينت ځينې پټوي او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ای مؤمنانو ددې لپاره چې تاسو کامياب شی.

هرکله چې ښځې په ځمکه باندې په زور سره د پخې وهلو څخه منع شوي دي ؛ځکه دا کار د سړو توجه جلبوي او د هغوی د فتنې سبب ګرځي نو اختلاط چې يو بل ګوري او خبری سره کوي په طريقه اولی سره حرام دی.

۴- د نامحرم سړي او نامحرمه ښځې ترمنځ په کور کې هم اختلاط جواز نلري. الله تعالی فرمايلي دی:(وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِ وَغَلَّقَتِ الأَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لاَ يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ). يوسف: (۲۳)

ترجمه: او هغې ښځې چې دا د هغې په کورکې ؤ هغې له ده نه له هغې سره د بدکارۍ مطالبه وکړه او (ټولې) دروازې يې کلکې پورې کړې او وه يې ويل: هله ته زر راشه هغه وويل زه په الله پورې پناه نيسم بيشکه دا (عزيز) زما مالک دی هغه زما استوګنه ښه کړې ده بيشکه شان دادی چې ظالمان فلاح (او خلاصی) نه مومي.

د يوسف عليه السلام په فتنه کې داخته کيدلو سبب اختلاط ؤ.

۵- په اختلاط کې سترګې نه ساتل کيږي حال داچې الله تعالی مونږ ته حکم کړی دی چې سترګې ښکته واچوو.الله تعالی فرمايلي دي:(قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ (۳۰) وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ).( النور: ۳۰- ۳۱ )

ترجمه:- ته مؤمنانو ته ووايه! چې خپلې سترګې دې (له نامحرمو نه) ټيټې ساتي او دخپلو فرجونو (شرم ځايونو) ساتنه دې کوي دا د دوی لپاره ډير پاکيزه دي؛ بيشکه الله ښه خبردرا دی په هغو کارونو چې دوی يې کوي او ته مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې دې ټيټې ساتي .

الله تعالی مؤمنانو سړيو او مؤمنانو ښځو ته د سترګو ښکته کولو امر کړی؛ ترڅو يو د بل په ليدلو سره په فتنه کې واقع نشي ؛ نو اختلاط چې يو دبل ليدل هم په کې وي او خبری کول هم ورسره مل وي په طريق اولی سره حرام دی.

٦- د نامحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط په ټولو شريعتونو کې حرام ؤ. (وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ) القصص: (۲۳)

ترجمه:- او کله چې د مدين اوبو ته ورسيد نو دهغه ( کوهي) په خوا کې يې د خلکو يوه ډله ومونده چې اوبه يې ورکولې او له هغوی نه يې را بيرته دوه ښځې ومونډلې چې خپل څاروي يې رامنع کول وه يې ويل ستاسو څه معامله ده؟ هغوی وويل: مونږ (څارويو ته) اوبه نه ورکوو ترهغه پورې چې شپانه بيرته ( سره له ماله) لاړشي او زمونږ پلار عمر خوړلی بوډا دی.

د شعيب عليه السلام لوڼه د خلکو څخه جدا خپل حيوانات يې رامنع کول، ترڅو د پرديو سړيو سره اختلاط رانشي او د (لانسقی حتی يصدرالرعاء) جمله کې د همدې مطلب وضاحت پروت دی.

۷- دا چې اختلاط نقصاني شی دی؛ بايد خپل ماشومان په وړوکتوب کې ددې عمل څخه وژغورل شي ؛ څکه په حديث شريف کې مور او پلار ته لارښوونه شوی چې کله هلک او انجلی اوه کلن شول بايد بستره يې يو دبل څخه جدا شي. په حديث شريف کې راځي:(مُرُوا أولادَكم بالصلاة وهم أبناءُ سبع ، واضربوهم عليها وهم أبناءُ عشْر، وفرِّقُوا بينهم في المضاجع).أخرجه أبو داود

ترجمه:- امر وکړئ خپل اولاد ته د لمانځه کله چې دوی اوه کلن شول او وه يې وهئ دوی د لمانځه په قضا کولو کله چې دوی لس کلن شول او جدا کړئ ددوی د ويده کيدو ځايونه .

۸- په آحاديثو کې د بيګانه سړي او ښځې د اختلاط او خلوت څخه منع راغلی ده.رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:(لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ، وَلاَ تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلاَّ وَمَعَهَا مَحْرَمٌ).صحيح البخاری

ترجمه:- نه دې يواځې کيږي سړی د بيګانه ښځې سره او سفر دې نه کوي ښځې؛ مګر داچې هغې سره محرم وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي :(لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ). سنن الترمذي

ترجمه:- نه یواځې کیږي سړی د بیگانه ښځې سره مگر دریم یې شیطان وي.

داچې په خلوت کې اختلاط وي شریعت ورڅخه منع کړې ده او سفر کې هم د خلوت او اختلاط ویره وي او دښځې دعزت دپایمالولو ویره وي؛ ځکه ورڅخه شریعت منع کړې ده.
۹- پیغمبرعلیه السلام سړي هغو ښځو ته د ور داخلیدو څخه منع کړي دي چې خاوند یې غائب وي.
نبي علیه السلام فرمایلي دي: (لَا تَلِجُوا عَلَى المُغِيبَاتِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ). سنن الترمذي

د نا محرمه ښځو سره اختلاط شیطان ته دا فرصت ورکوي چې دواړه په فتنه کې واچوي.

ددې آحادیثو نه معلومه شوه چې کله سړی د پردۍ ښځې سره د محرم نه علاوه ځانته شي نو شیطان دوی ته وسوسې وراچوي ددوی شهوت راپاروي او دوی په زناکې مبتلا کوي ؛ ځکه د شیطان کار همدا دی چې خلک په زنا کې او نوروگناهونو کې مبتلا کړي. بیا چې کله ورته داسې خالي ماحول پیدا شي چې سړی د پردۍ ښځې سره ځانله ناست وي نو په دې وخت کې خپل کار په اسانۍ سره کولای شي. د یو بزرگ وینا ده که په یو ځای کې د حسن بصري رحمه الله په شان لوی بزرگ او د رابعه بصریه په شان لویه بزرگه ځانته کیني او ددوی په منځ کې د زنانه محرم نه وي نو شیطان به دوی هم په بدکارۍ کې مبتلا کړي نو لهذا شریعت چې زنانه ته د کومو کسانو نه د پردې حکم کړی دی دا به د هغو سره ځانله نه کیني. نو ددې وجې نه په یو حدیث شریف کې راځي:( أَلاَ لاَ يَبِيتَنَّ رَجُلٌ عِنْدَ امْرَأَةٍ إِلاَّ أَنْ يَكُونَ نَاكِحًا أَوْ ذَا مَحْرَمٍ). صحیح مسلم

ترجمه:- خبردار! شپه دې نه تیروي سړی د ښځې سره؛ مگر داچې نکاح یې ورسره کړې وي او یا وي هغه محرم د ښځې.

۱۰- اسلامي شریعت ښځې منع کړي دي چې له ضرورت پرته دې د کوره نه وځي، ځکه که چیرې ښځه په خپل کور کې وي هیڅکله اختلاط نه رامنځ ته کیږي.(المَرْأَةُ عَوْرَةٌ، فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ). سنن الترمذي

ترجمه:- ښځه عورت دی کله چې د کوره ووځي ورپسې کړي شیطان خپل نظر (ترڅو یا ښځه گمراه کړي او یا وربانديې بل سړی خطا کړي).

۱۱- حضرت علي رضي الله عنه به د اختلاط نه منع کوله. حضرت علي رضي الله عنه به هم په بازار کې بې ضرورته د ښځو گرځیدل او د اختلاط څخه منع کوله . هغوی په یوه خطبه کې او فرمایل :(أَمَا تَغَارُونَ أَنْ يَخْرُجَ نِسَاؤُكُمْ وَقَالَ هَنَّادٌ فِي حَدِيثِهِ أَلَا تَسْتَحْيُونَ أَوْ تَغَارُونَ فَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ نِسَاءَكُمْ يَخْرُجْنَ فِي الْأَسْوَاقِ يُزَاحِمْنَ الْعُلُوجَ). مسند أحمد

ترجمه:- آیا تاسو ته غیرت نه درځي -د هناد رح په روایت کې رازي چې هغه داسې وویل: آیا تاسو ددې نه حیا نه کوئ- چې ستاسو ښځې ( بلا ضرورت ) بهر ته وځي ؟ بیشکه ماته دا خبره را رسیدلې ده چې ستاسو ښځې بازارونو ته ( بغیر ضرورت ) وځي او هلته د سړو سره په تللو کې جنگیږي.

ددې روایت نه دا معلومه شوه چې کله په بازار کې د سړو او ښځو اختلاط منع دی؛ نو په بندو کمرو کې خو اختلاط په طریق اولی بند دی؛ ځکه په بندو کمرو کې خو د بعضې گناهونو خطره زیاته وي.

۱۲- ښځه به د خپل لیور (د خاوند ورور) سره هم ځانله نه کیني په آحادیثو کې د زنانه د پاره د خپل لېور ( د خاوند ورور ) سره ځانله کیناستلو نه هم منع راغلې ده . د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :( إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ !) فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ : أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ ؟ قَالَ :( الحَمْوُ المَوْتُ) . متفق عَلَيْهِ

ترجمه:- تاسو پردی ( أجنبي ) ښځو ته د ورتللو نه ځان وساتئ ، ( ځانله ورسره مه کینئ )، د انصارو یو سړي عرض اوکړو : یارسول الله أَفَرَأَيْتَ الحَمْوَ ؟ قَالَ :( الحَمْوُ المَوْتُ)! اې د الله رسوله ! دلیور په باره کې څه حکم دی؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وویل: لیور مرگ دی. آن تردې چې د کومو ښځو چې مَحرم بې غیرته وي او فاسق وي ښځه نشي کولی چې ورسره سفر وکړي.[رد المحتار ]

۱۳- اسلامي شریعت په عباداتو کې هم ښځو ته لارښوونه کړی ده چې د ښځو په کور کې لمونځ کول بهتر دی ترڅو د سړو سره اختلاط رامنځ ته نشي. پیغمبرعلیه السلام ښځو ته ویلي ؤ چې دښځو لمونځ د مسجد څخه په کور کې غوره دی. (عن أُمِّ حُمَيْدٍ امْرَأَةِ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهَا جَاءَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُحِبُّ الصَّلَاةَ مَعَكَ قَالَ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّكِ تُحِبِّينَ الصَّلَاةَ مَعِي وَصَلَاتُكِ فِي بَيْتِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ وَصَلَاتُكِ فِي حُجْرَتِكِ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِكِ فِي دَارِكِ وَصَلَاتُكِ فِي دَارِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ وَصَلَاتُكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِي). مسند أحمد

ترجمه:- د ابوحمید ساعدي ښځې ام حمید رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایې چې زه راغلم نبي علیه السلام ته او ورته مې وویل: ای دالله رسوله! زه دا خوښه گڼم چې له تاسره لمونځ وکړم. نبي علیه السلام ورته وفرمایل: زه پوهیږم چې ته داخوښه گڼې چې له ما سره لمونځ وکړی؛ مگر ستا لمونځ په کوټه ستاکې بهتره د هغه لمونځ څخه چې په خپله حجره کې یې کوی او لمونځ ستا په حجره ستاکې بهتر دی د هغه لمانځه څخه چې په کور(صحن) کې یې کوی او لمونځ ستا په کور کې بهتره دی دهغه لمانځه څخه چې د قوم په مسجد کې یې کوی او لمونځ ستا دخپل قوم په مسجد کې بهتره دی دهغه لمانځه څخه چې کوی یې ته په مسجد زما کې.

۱۴- د اختلاط څخه د ممانعت په خاطر د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځو ته امرشوی ؤ چې ښځې دې په آخري صف کې دریږي او کله به چې پیغمبرعلیه السلام سلام وگرځولو ښځو ته حکم شوی ؤ چې د سړو څخه مخکې له مسجد څخه ووځي او په مسجد نبوي کې دښځو لپاره ځانگړې دروازه موجود وه او سړي ددېنه منع شوی ؤ چې مسجد ته د ښځو ددروازې څخه داخل شي. په یو حدیث شریف کې راځي: (خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا). سنن أبی داود

ترجمه:- بهتره صفونه د سړو لومړني صفونه دي او بد صفونه دسړو آخري صفونه دي او دښځو بهتره صفونه آخري صفونه دي او بد صفونه دښځو لومړني صفونه دي.

أبو داود الطیالسي د عبدالله بن عمر رضي الله څخه روایت نقل کړی دی چې کله پیغمبرعلیه السلام مسجد نبوي آباد کړ یوه دروازه د ښځو لپاره پریښوده او داسې یې وفرمایل: (لایلج من هذا الباب من الرجال أحد).

ترجمه:- نه دې داخلیږي ددې دروازې څخه دسړو نه هیڅوک.

امام بخاري په تاريخ کبير کې دا روايت نقل کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:(لا تدخلوا المسجد من باب النساء).التاريخ الكبير للبخارى ترجمه: مه داخليږئ مسجد نبوي ته د زنانه ؤ له دروازې څخه.

په يو روايت کې راځي چې حضرت عمر رضي الله عنه به د زنانه ؤ له دروازې څخه سړي منع کول چې مسجدنبوي ته داخل شي. (كان عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- ينهى أن يُدْخَلَ المسجدُ من باب النساء). أخرجه أبو داود.

يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسجد نبوي څخه راووتلو وه يې ليدل چې سړي او ښځې د مسجد څخه يوځای راووتل، نبي عليه السلام ښځو ته داسې وفرمايل: (اسْتَأْخِرْنَ فَإِنَّهُ لَيْسَ لَكُنَّ أَنْ تَحْقُقْنَ الطَّرِيقَ عَلَيْكُنَّ بِحَافَاتِ الطَّرِيقِ). فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَلْتَصِقُ بِالْجِدَارِ حَتَّى إِنَّ ثَوْبَهَا لَيَتَعَلَّقُ بِالْجِدَارِ مِنْ لُصُوقِهَا بِهِ. سنن أبی داود

ترجمه:- وروسته شئ تاسو ته په کار نه دي چې د لارې په منځ باندې لاړې شئ؛ بلکې تاسو ته په کاردي چې دلارې په يوه غاړه لاړې شئ. نو زنانه وو به ځان په ديوال پورې دومره ونښلولو چې د زنانه ؤ څادر به په ديوال پورې ونښتلو.

په يو روايت کې راځي چې نبي عليه السلام به کله سلام وگرځولو ترهغې به ناست ؤ ترڅو زنانه مخکې له سړو څخه دمسجد نبوي څخه ووزي. ( أَنَّ النِّسَاءَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم- كُنَّ إِذَا سَلَّمْنَ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ قُمْنَ وَثَبَتَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم- وَمَنْ صَلَّى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللهُ فَإِذَا قَامَ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم- قَامَ الرِّجَالُ). صحيح البخاري

ترجمه:- بيشکه زنانه به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې کله به يې چې سلام وگرځولو نو دوی به پاڅيدلی او رسول الله صلی الله عليه وسلم او سړي به په خپل ځای ناست ؤ(ترڅو زنانه له سړو مخکې لاړې شي)؛ کله به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له ځايه پاڅيد سړي به هم له ځايه پاڅيدل.

## د اختلاط ناوړه او بدې پايلې:

د نامحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط ډول ډول اخلاقي، نفسياتي، ټولنيز، عقلي او تعليمي بدې پايلې لري.

د نامحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط زيات اخلاقي او سلوکي زيانونه له ځانه سره لري او اختلاط په ټولنه کې زنا ته لاره پرانيزي او بداخلاقي په ټولنه کې خپريږي او د ټولنې څخه د عفت څادر ټوليږي.

ابن القيم رح وايې: په دې کې هيڅ شک نشته چې د ښځو سره اختلاط د ټولو شرونو او مصيبتونو سرچينه ده او اختلاط دټولو عذابونو د راتللو سبب دی او د عامو او خاصو چارو خرابي د اختلاط له امله ده او د ښځو او سړو ترمنځ اختلاط د فحشاء او زنا سبب دی.[الطرق الحكمية]

- اختلاط د زنا مقدمه ده: د نامحرمو ښځو او سړيو ترمنځ اختلاط د زنا او فحشا مقدمه ده؛ چې خلک يې پروا نه کوي؛ځکه په اختلاط کې لومړی کتل دي، بيا تبسم دی، بيا سلام دی، بيا خبری دي او بالآخره د ملاقات وعده ده چې دا ټول د زنا لپاره مقدمات دي.
- په زنا کې اخته کيدل: کله چې اختلاط رامنځ شي، نامحرمه ښځې د نامحرمه سړيو سره تماس نيسي او يو له بل سره خبری کوي، يو له بل سره خلوت کوي، خبری کوي، ناوړه اړيکې قائموي چې په نتيجه کې په زنا کې اخته کيږي . خپله غربيان په دې اعتراف کوي چې د واده نه مخکې کومې پيغلې حامله کيږي دا د مختلط ژوند نتيجه ده.

- د زنا ځخه پیداشوي ماشومان: په کومو نظامونو کې چې په مکتبونو، لیسو او پوهنتونو، مارکیټونو، بازارونو، دفترونو اوشرکتونو کې مختلط نظام وي، په دغسې ټولنو کې زنا زیاته وي او د زناځخه پیداشوي ماشومان هم زیات وي.

د امریکا په اړه ځینې احصائې شته چې دا په ګوته کوي چې د مکتب ۰/۰۴۸پیغلې په مکتبونو کې او لیسو کې د مختلط نظام له امله حاملې شوي دي. یوې غربي رسنۍ لیکلي دي چې په بریطانیه کې د هغه ماشومانو تعداد (۶۲) زرو ته رسیدلی دی چې د زنا ځخه تولد شوي دي. [الاختلاط بین الواقع والتشریع، موسوعة الخطب والدروس]

- د حیاء او عفت له منځه تلل: د اختلاط د زیانونو ځخه دا هم ده چې په کومو ټولنو کې اختلاط وي په هغو ټولنو کې حیاء وجود نلري؛ ځکه هغه ښځه چې د بیګانه سړیو سره شریکه ناسته پاسته ولري؛ دداسې ښځې په سترګو کې حیاء نه وي او همدې امله ښځه خپل خاوند ته هیڅ درناوی نلري.
- د ناروا اړیکو درلودل: د نامحرمو سړیو او ښځو ترمنځ اختلاط سړو او ښځو ته ددې فرصت ورکوي چې د پردیو سړو او پردیو ښځو سره جنسي روابط ټینګ کړي او ددې اړیکو په نتیجه د کورنیو ځخه اعتماد، امنیت او عفت له منځه ځي او په داسې کورونو کې تل جنګ، جګړې او شخړې وي .

- د ښځې او خاوند ترمنځ بې باوري: هغه ښځه او یا خاوند چې په اختلاط معتاد وي؛ د اختلاط په نتیجه کې تل ښځه په خپل خاوند بدګمانه وي او خاوند په خپله ښځه بدګمانه وي.

- کورني روابط او اړیکې له منځه تلل: د اختلاط په نتیجه کې د ښځې اوخاوند ترمنځ صمیمانه اړیکې کمزوري کیږي او متقابل احترام هم له منځه ځي. داختلاط له امله ښځه خپل خاوند ته کمه توجه کوي او خاوند خپلې ښځې ته کمه توجه کوي او اکثره وخت ښځې خپلو خاوندانو ته درواغ وایې چې بالاخره کورني روابط خړ پړ کیږي او کورنۍ پاشل کیږي.

- د طلاقونو زیات والی: کله چې د نامحرمه ښځو او نامحرمه سړو سره رابطه ټینګه شي او ښځه او خاوند پر یو بل باندې بدګمانه شي چې دا حالت طلاق ته منجر کیږي.د همدې وجې نه په غرب کې د کورني نظام موده ډیره کمه وي او د اختلافاتو په نتیجه کې سړي خپلو ښځو ته طلاقونه ورکوي.

- په ټولنه کې د جنجالونو او دعواګانو زیاتوالی: د اختلاط له امله د ښځې او خاوند ترمنځ جګړې او دښمني رامنځ ته کیږي او کله دا دښمني نورو ته سرایت کوي، په محاکمو کې ښځې د خپلو خاوندانو پر ضد شکایتونه او دعواګانې ثبتوي.له همدې امله په کومو ټولنو کې چې مختلط نظامونه رائج وي په فامیلي محاکمو کې جنجالونه زیات وي نسبت نورو محاکمو ته.

- اختلاط د زړه د طهارت سره منافي عمل دی: د نا محرمو ښځو او سړیو ترمنځ اوسنی اختلاط په بازراونو کې، په ټولنیزو صفحو کې ، دخوښیو په مناسبوتونو کې او په اخترونو کې د زړونو د پاکۍ او سلامتیا سره منافي عمل دی. دا آیت کریمه: {وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ} الأحزاب: 53. د هغو سړیو او ښځو په حق کې نازل شوی دی چې د پاکو زړونو خاوندان ؤ ؛ خو ددې آیت حکم عام دی او ټولو خلکو ته ترقیامته پورې شامل دی.

- د بیګانه سړیو او ښځو ترمنځ اختلاط سپین سترګي ته دعوت دی؛ حال داچې مونږ سړیو او ښځو ته د سترګو د ټیټولواو ښکته اچولو امر شوی دی.

- په سړکونو او کوڅو کې ښځې د خلکو له خوا په قول او فعل سره زورول کیږي.